

PROPERTY OF ARIC
Established 1989

# پښتونستان ځوړي

لیکونکی محمد اکبر «پامیر»

مهتمم نیک محمد «پکتیانی»

د طبع شمیر ۲۰۰۰

PROPERTY OF ARIC
Established 1989
AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00007499 6

تقریظ

# پښتونستان حق دی

هو - موږ هم وايو پښتونستان حق دی

داستا د پامیر د دې او ازسره د عدالت او حقیقت هستی ملګری دی

دانسان کرامت او شرافت د بنی آدم د حریت او مساوات غوښتلو

جذبه د هر ځای نه ده داستا د پامیر سره په ګډه وائی چه :-

## پښتونستان حق دی

د پښتونستان د ملت تاریخی روایات او اوسنی خواهشات دا آواز

اوچتوی چه پښتونستان حق دی - حق بیشکه حق او بریالی دی او ځکه موږ او

هر چیرته چه د اجتماعی عدالت طرفداران څوک دی قول په دې باور لرو چه

پښتونستان جوړیدونکی دی -

استاد پامیر د دې خوږې حقوقي او منطقي رسالې لیکونکی د حقوقو یو لوی ماهر او استاد دی په سنه ۱۹۱۷ کښې د ننګرهار په کامه کښې زیږیدلی او د حقوقو د زده کړې د پاره یې د ترکو سیاسي او حقوقي علوموپه پوهنتون کښې د ولس کاله پر دیسي شپې ورځې تېرې کړې دي په دې رساله کښې استاذ پامیر د پښتونستان حقوقي ماهیت په ډېر ښه شان څرګند کړی دی او د پښتنو د جذباتو ترجماني یې هم په ډیر ښه ډول کړې ده ولې لولې خو ښې به شي م. ننګرهاری

بسم الله الرحمن الرحيم

# پښتونستان حق دی

## تمهید

زه په دې څو کرښو کې نه غواړم چه انشا پردازي وکړم او یا د لوستونکو فکر و نه په ډېر و ویلو مشوش کړم دا ځکه چه حقایق هیڅکله د پردې لاندې نه پاته کېږي او هیڅوک له حقایقو څخه سترګې نشي پټولی حقیقت لکه چه وائي یو روښانه او ځلانده لمر دی او سړی کولای شي حقیقت ته ډېر ژر او د لنډې لارې څخه ورسېږي، نو دا ضرور نه ده چه سړی انشا پردازي وکړي او لوستونکي سرګردانه او د لوست څخه پښېمانه کړي.-

ولې دا خبره هم باید چه ووېلای شي چه د حقیقت ښکاره کول او هدف ته رسیدل

هم یوه لاره غواړی او د دې نه هم دغون دی چه سړی هدف ته ورسیدو
دپاره یوه آسانه لار ځانته غوره کړی - .

نو زه هم د دې دپاره چه پیړ دی دره اولنده رساله کی خپل ځان او نور
سرګردانه نه کړم یوه مخصوصه طریقه په کار آچوم او څومره چه کولاشم حقیقت په
حقه او آسانه ژبه بیانه وم او د دې دپاره مجال نه وینم چه حقوقی او سیاسی ډیر
اوږده بیانونه ولیکم ، زما طریقه او زما روش د دې حقی ادعا (چه پښتونستان
حق دی) د ثبوت دپاره هم داوی چه د ټولو نړۍ کی به حق او حقوق وښیم چه له کومه
او څرنګه پیدا شوي او بیا انسان په جامعه کی ولی حق لری او ولی ضروره ده چه
هر انسان به صفت د دې چه انسان دی او د ټولنی متول افراد او بیا د دنیا
ملتونه ولی ازادی غواړی او په څه آزاد ژوند نه زړه جنه کوی ؟ ؟

پس د دې نه چه دا پوره مطلب روښانه شی نو بیا به بده نه دی

که د تاریخ او سیاست خواته هم مخ دا روم او په دې قسمت کې هم د لاندې مسئلې وضاحت وشي .

تاریخ د حقایقو رڼا ده، تاریخ د فرد او جامعې او بیا د دنیا د ملتو د پیوند کوشیر دی، زه به ددې خبرې کوشش هم وکړم چه تاریخ یو حقیقت دی او د پښتونستان ملت په حیث د یو مستقل ملت موجود دی او موجوده پاتې شي نو ځکه د غه دی دا وړه رساله په دوو برخو وېشم

لمړی برخه د حقوقو پیدایش او د انسان د حقوقو د ازادۍ ثبوت

دویمه برخه د تاریخ او سیاست له مخه د یو ملت حق ثابتول .

لمړی برخه :-

زه ناچاریم چه د غه برخه هم په څو برخو وویشم .

اول - قولنه څه شي دی ؟

دوهم ــ حق او حقوق ولې په کار دي ؟

دریم ــ د انساني حقوقو او ازادیو پیدایښ او ضرورت .

څلورم ــ د ملت او د دولت ضرورت .

پنځم ــ د مللو د حقوقو پیدایښ او ضرورت .

شپږم ــ د معاهدو او قرارد ادونو تدقیق .

اوم ــ د پښتونستان د ملت د آزادتزند ضرورت او ثبوت

او دغه برخه به هم په خپل وار په دې لاندې ډول تدقیق او تحلیل کړو :ــ

اول ــ دا چه تاریخ د حق په ثبوت کښې څه کولای شي ؟

دوهم ــ دا چه سیاست څه تقاضا لري ؟

دریم ــ دا چه پښتونستان ملت یو تاریخي ملت دی ،

څلورم ــ د زردستي جبرې او نتیجه .

## لمړی برخه

### ټولنه څه شی دی

داخبره هیڅوک نشی ماتولای چه انسان د انشی کولای چه ځان له په ځانګه خپلی نیم ګړتیاوی پوره کړی او یوازی ځکه خپل ژوند وکړی ځکه چه انسان یواځی دا بوا وخته و نه جوړ نه دی بلکه د ټولونه زیاته د روح او افکار دیوه ټوله ده او د اوجه ده چه انسان دوه قسمه احتیاجات لری.

اوّل ـ مادی احتیاجات دی چه هر سړی مجبور دی خپله ځینه مړه کړی ځان د تود و او سړ د نه وساتی په یوه خونه کښی ګذاره وکړی او په دی صورت سره د باد ان او ځنا ورونه ځان د ساتی او استراحت وکړی.

تر او سه پوری تاریخ مونږ ته دا نه ده ښکاره کړی چه یو انسان به

یو ازی د دول سره خپل ټول حاجتونه پوره کړی او که نسبتاً پوره ئی هم کړی
په ډیر مشقت او سختیو سره به وی او خامخا به له نیمګړتیا څخه خالی نه وی.

دوهم:- معنوی احتیاجونه دی چه هر انسان پس له دې نه چه ځان موړ
او پټ، کاندی نو استراحت او تفکرته اړکیږی په هیڅ شان دا
نشی کولای چه دا احتیاجونه یوازی پوره کړی هیڅکله فکر انکشاف
نه کوی او د استراحت د وسائل نشی برابرولای مګر دا چه یو څوتنو
نور د سره یوځای شی او دا احتیاج په دی لاندی د دول تکمیل او پوره
ګاندې:

آ - د هر سړی استعداد او قابلیت یوی لاری ته متوجه دی
او هر کله چه ډیر انسانان سره یوځای شی نو یو یو کار او بل ئی
بل کارته لاس ورته کړی او په دې صورت یو بل سره مرسته

کوی چه د دی عمل نه په ټولنه کي د کارو ویشل پیدا کېږی او چه کار په دی رقم
او شکل سره د ټولنی د افرادو په منځ کښی و ویشل شی نو هر سړی چه یو کار ته
متوجه دی خپل استعداد او قابلیت ته انکشاف ورکوی او هر یو د نورو
د کوششونو او زیار ایستلو نه فائده آخلی او ټولنه په دې رنګ مخ په وړاندې
د روحی ترقی او مدنیت منځ ته راولی، ټول خلک آسوده کېږی او دا ځکه
چه هر یو پوهېږی چه که چیری کار ونه کړی نو د نورو د زحمتونو څخه استفاده نشی
کولای او خپل احتیاج نه هم نشی پوره کولای، د کار د ویشلو یه نتیجه داده چه که چیری
کار د افراد په منځ کښی د استعداد او قابلیت د مخې تقسیم نشی نو هر سړی مجبور دی
چه هم دهقان او نجار او هم نانبای او هم خیاط شی ځکه نو د استراحت وسیلې
مهیا کاندې او دا کارونه په هیڅ ډول یو سړی سر ته نشی رسولای او کله چه کار
د و یشل شی نو دهقان پوهېږی چه خیاط به ده ته جامې ګنډی نانوا خبر دی

چه د استراحت وسیلې ئې تیارې دي، او د اسې نورولې د اخر ورد چه د پوهيږو د اکاروته او د افراد و ، يو ه ټولنه کې يو ځای کیدل ځانته نظام او مقررات غواړي که چیرې منځ کښې نظام او مقررات د جود و نه لري نو بيا سمې هر رنګه چه غواړي ځينې به کوي او د اځکه چه افراد تل مدام خپلو ګټو او فائدو ته متوجه دي هيڅوک د ځولا ې نشي نو مخه ونيسي که هر سمه ي خپلې ګټې ونه پيسې ګرځي او د ټولنې ترونه و کيږي.

خو د احساس چه بايد په ټولنه کې يو نظام جوړشي د افرادو په زړونو کې پيدا کيږي او ټول خلک په يوه خوله دا وائي او دا غواړي چه نظام دې جوړ شي . دغه دې چه حقوق منځ ته راځي يعنې همدا احساس کافي دي چه حقوق پيدا شي.

ب :- او س نو ويلای شو چه حقوق په ټولنه کښې د همدې ضرورت له مخې منځ ته راځي که چيرې د افرادو احتياجونه مادي دي او که معنوي به بنه د ولې

سره له مقرراتو لاندې راتلشي يو ترتيب او تنظيم ورته ورکړه شي، نو

نو کله څه معنی لري؟ هغه وخت لازم دادی چه افراد پرېږدو چه هر څه چه کوي،

هر څنګه چه ژوند غواړي ترسره یې کړي، او ضرور نه ده چه متول مجبور کړو آیا

خپله مجبور شي چه منونکي ته راشي څوک چه قوي دي هغه به ژوند کوي او څوک

چه ضعیفان دي هغوی به هر وخت مريان کېږي او یا به مري.

نظام او مقررات د مادي او معنوي احتیاجو د پوره کیدو له پاره ضروري دي تر

څو چه د یو فرد زړه د ګمان او د مال په ساتنه داډه نه لري، څو چه افراد د متورو او

پریو تو په منځ کښې مقررات و نه ویني او په دې خبره چه څوک به له مقرراتو څخه

د بل چا ژوند ته خطره نه پېښوي مطمئن نشي او هر وخت په وېره ژوندون وکړي

نو جامعه د څه د پاره وار وکېږي!

ج: ـ انسان د دې له امله چه انسان او اشرف مخلوقات دی د نورو

جاندارو څخه فرق او امتیاز لري نو هم د انسان هغه وخت چه پیدا کیږي

د ځان سره ځیني حقوق هم پیدا کوي په هغه وخت کښي چه خدای تعالی (ج)

انسان د مور د رحم نه په ژوندي شکل دنیا ته راآستوي ور ته حقوق هم

ورکوي او د اصول حقوق د انسانانو د پاره یو شان دي ، ځکه چه خدای

تعالی (ج) عادل دی او عدالت داتقاضا کوي چه د مخلوقاتو سره یو دول

معامله وکړله شي ، حاجت نشته چه موږ د دانشمندانو او علماؤ نظریي

د نظر نه تیري کړو او د هغي د رد یه دا څېره ثبوت ته ورسو ، ځکه چه د آیو حقیقت دي

حاجت نه لري چه په نظریو باندي ثابت کړی شي ، کوم حقوق چه انسان د

تولد په موده کي د ځان سره لري هغه دا دي :

۱ :— د ژوند حق دی ، پدې معنی چه هر سړی حق لري ژوندوکړي او څوک

حق نه لري یو انسان د ژوند کولو څخه محروم او بې نصیبه کاندي .

۲ :- یوازې ژوند او د ژوند حق د انسان دپاره کافي نه دی بلکه ضروري دي

چه دا ژوندون آزاد وي او هر سړی حق لري د خپل آزاد ژوند نه ټولنې

په نظام کښې استفاده وکړي (هر سړی آزاد دی) ولې د آزادۍ

داسې نه ده چه هر سړی هر څه چه غواړي هغه اجرا کاندي او هر رنګه

ئې چه خوښه وي ژوندون وکړي؟ ځکه چه آزادي په یوې ټولنې کې

مطلقه کیدای نشي، داچه ټول ازادي د امعنی لري چه باید هر سړی

د هغه بل ازادۍ ته د احترام په سترګه وګوري، د هغه ازادي له منځه

یونسي یعنې د هغه ازادي د بل د آزادۍ د ختمیدو نه شروع کیږي

د هرچا د آزادۍ حدود د یو د بل سره تړلي دي .

دا ټیو د او بندونه چه د افرادو په آزادۍ او خپلواکۍ ایښودل

شویدي د ټولو افرادو دپاره مساوي دي او هیڅوک

دهغې نه سر د نغاړي او شکايت وکاندي. په ټولنه کې ازادي د معنی لري

دريم ـــ د آزادۍ حق چه هر انسان ئې د انسانيت په نامه لري د ډېرو نورو

آزاديو مستلزم دی آزاد؟ يعني کولای شي چه آزاد ولاړ شي، کېښيني

آزاد وګرځي، آزاد، وګرېږي، آزادانه خبرې او سياسي ټولنې

جوړې کړي، خپل افکار په ازادانه ډول سره بيان کړي..

ولی هېر مو نشي! چه فرد سره د دې چه د ټولې آزادۍ لري بيا هم

مجبور او مکلف دی چه د نورو آزاديو ته خلل پېښ نه کاندي که کړي، که وائی

خپل افکار نشروي ضرورده چه د نورو د ازاديو مراعات هم وکاندي او په خپل سر هېڅ ونه کړي

ځکه چه که هر سړي له خپلو آزاديو نه په خپل کيف او خواهش استفاده کول وغواړي بيا

په ټولنه کې هرج مرج پيدا کيږي او د ټولنې وجود بې معنی کيږي . . .

څلورم:ـــ هغه وخت چه ټولني په دې پوره ته ډول جوړې شوي او هر چا

ازادي په طبیعي ډول د قید لاندې راغله نو یو بل کار ته ضرورت پیښیږي

او هغه دا چه د ټولني افراد هر یو خپله نښتي کولای چه د ټولنې نظام جوړ کړي او هر یو د

د ازادي د قید د لود د پاره پخپل سر اقدامات وکړي ، مثلاً فرض کړو

چه یو یې جامعې د دې د پاره چه نظام مختل نشي په جمع سره یوه قاعده منلې او بیله

هغې نه چه هغه تثبیت کاندي په ټولنه کښې جریان لري یعني افراد د ټول په

ضمیمانه ډول غواړي چه هیڅوک په بل چاباندې تیری ونه کړي او هیڅوک د چا

مال غصب نه کاندې ، اوس دا بیا فرض کړو چه احمد او محمود مال په غلا

او یا په جبر او زور سره د هغه نه د لاسه کړو نو ټولني خو یوازې دا منلې ده

چه باید دا کار ونشي مګر د هغې تعزیر او مجازات ئې نه دو تثبیت کړي

نو پس له دې واقعې ځنې د ټولنې افراد ټولیږي او غواړي چه د احمد مجازات

تثبیت کړي او هغه ته سزاوار ګاندي چه بیا هیڅوک ونشي کړای چه دا رنګه

کار ونه وکړي، ولې دا خواهش او آرزو چې د حقوقو منبع ده په هیڅ صورت په دې رنګ تشبیهولای نشي لکه چې د احمد او نورو الان اقربا او خپلوان هر و مرو د هغه د آزادۍ طرفدار کېږي او یا یې لږ مجازات ورته تعینوي او د محمود طرفداران برعکس دې غواړي چې احمد ته نوي مجازات ورکړل شي، او طبعاً په دې ډول مناقشو او مجادلو نه یوازې احمد بې مجازاتو پاتې کیږي بلکه د جامعې نظام ددې ځکه ړي نه هر و مرو مختل کیږي او که پریږدو چې دا خبره احمد او محمود په خپل منځ کښې په خپله فیصله کړي بیا هم مثبته نتیجه لاس ته نشي راتلای نو دغه وجه ده چې د دولت افراد حس پیدا کوي په دې باندې چې ددې کار د تنظیم او ترتیب د پاره یوه موسسه په کار ده چې دغه مؤسسه د جامعې په نوم او د جامعې په قوت او قدرت قواعد تثبیت کاندي او د هغو خلاف رفتارۍ د مجازات معین او د هر ډول اختیاجاتو د رفع کولو دپاره

قواعد او مقررات وضع کاندې دغه ضروري او اجتماعي موسسه تن ورځ د
دولت په نوم شهرت لري، نو ویلای شو چه دولت یوه اجتماعي موسسه
ده او محض ددې له پاره چه حقوق تثبیت او هغه پر افرادو باندې تطبیق کاندې
منځ ته راغلې ده نو هر کله چه ټولنې ډیر کلونه سره تیر کړي او یو تاریخ ورباندې
واوښت نو د هغې افراد د زمانې په تیرېدنې یو بل سره صمیمیت، محبت
شفقت، دلسوزي، او د تعاون حسونه پیدا کوي، یو د بل د غم نه متاثر
کېږي، عمومي غمونه او عمومي ښادي ګانې پیدا کوي، د ژبې د ثقافت،
د دین او تاریخ او جغرافیا په ګډ محیط کې ژوند یو بله معنی پیدا کوي، یو جامعه
د بلې نه امتیاز او فرق او توپیر مومي، د جامعې هر بشر ې د هغې جامعې د خاورې
د پاره ځان قربانوي د خاورې کده مینه او محبت د ټولو په زړونو کې رڼا
اچوي، د وطنولۍ مینه منځ ته راځي او هغه خلک چه پدې مشترکه خاوره

کبنی ژوندکوی او په دی مشترکی خاوري کبنی آستوګنه لری دځان نه

تاریخ پیداکوی، دنورو ټولنوسره تماس حاصلوی، تجارتی، اقتصادی

سیاسی، اونظامی تماس پیداکوی او پدې ټولوتماسونوکي دخپلی جامعی،خپلی ټولنی

اوخپلوقوانینواحترام ساتی او دهغوی دپاره فائده اوګټه رسول غواړی هرسړی

دخپلی فائدی نه دعمومی فائدي دحاصلولو دپاره فراغت او ایثارکوی دا

بندونه دالوړاوعالی احساسات دتاریخ اوزمانی په لاس کی ټینګیږی او

یوڅوی جمعیت یوځوي ټولنه ښکاریږی چه نن ئی دملت نوم دربانذی

ایښی دی نو دټولنی رنګ بدلیږی، شکل ئی تغیرخوری، افرادئی لاپسی

صمیمیت اومحبت پیداکوی اوخپل ملی دولت چه ټول کارکنان ئی

دخپل دولت وی غواړی چه دولت دجامعی له شکل نه ووځی او دټولنی

ددولت رنګ دملي دولت په رنګ بدل شی نوملت دارازمنځ ته راځی

او دا شکل او رنګ د قرنونو او اعصارو محصول دی دیو قرن او عصر ونه

نه دی پیدا شوی او څنګه چه د ملت افراد د تاریخ په وږدو او د زمانی د رنګ

رنګ او شکل شکل په تیریدو کښې یو د بل سره مینه او محبت پیدا کوی، نو

هیڅکله نه غواړی او حاضر ندی چه د بل ملت تر لاس لاندې ژوند وکړی

د بل ملت تاریخ ته ځان تابع کړی، د خپلو عنعناتو او عاداتو نه صرف نظر

وکړی او پردی عادات او قوانین ومنی او هغوی ته احترام وکاندې نو

کار چه په طبیعی او اجتماعی دوه ول سره کیدونکی نه دی نو ځکه هر ملت ارزو او ادا ده

لری چه په آزادی ژوند وکړی .

او هم د دې له کبله ده چه ملتونه نه غواړی د بل ملت غلامی ومنی او د پردو د

لاس لاندې د خپلو خاصو او سپیځلو آرزوګانو نه تیر شی، دا ځکه د نیا چه جوړه

شوی او نړی رګښی چه نبی آدم پښه ایښی ده جنګ او جدال د وام لری

ولي؟ دوی له اصله جه هر ملت خپله آزادی، خپل ژوند بولی او نو په

بل ملت پری تیری کوی، طبعاً منځ کښی جنگ او جدل پیداکیږی

او دنیا دوی له اصله د جنګ صحنه ده

پنځم — همه کله چه ملت په دی دول د دیرو اعصارو په تیرید

پیدا کیږی طبعاً خاص حقوق لری، څرنګه چه فرد په

صفت دانسان دپیدایښت وروځی نه را په دی خواد ځینو حقوقو

خاوند دی، همدا حقوق د ټولنی د هر فرد جلا جلا حقوق دی او د جامعی

دګردو افرادو مشترک حقوق بلل کیږی او جامعه چه د ملت په

شکل را ګرځی دا حقوق هم د ملت مال بلل شی او د ملت د ټولو

افرادو په منځ کښی مشترک وی، د فرد د ژوند حق خپلو اکی او د آزادی

حقوق د ملت مال دی، فرد حق لری چه ژوند وکړی او د جامعی ترقی

په لار کښي زيار و باسي او د جامعي د ښتر کو مالونو څخه استفاده وکړي

همدغه رنگه ملت هم حق لري نو ځکه چه په دنيا کښي قولني په ډول ډول

دي البته ملتونه هم جلا جلا دي او ځکه چه فرد مقتدر نه دي او نشي کولای چه

د قولني نه د باندي په يوازي شکل ژوند نه اداممه ورکړي همدا رنگه نن قولني

او ملتونه مجبور دي چه قولونو په لويه قولنه کي ژوند وکړي ، ځکه فرد چه څه رنگه

نشي کولای چه خپل مادي او معنوي حوائج رفع کاندي ، ملتونه هم قادر نه دي

چه خپل احتياجونه په جلا ډول پوره کاندي ولي ځکه چه هر ملت په يوي خاوري

کښي هستوگنه لري او د هر ملت خاوره او وطن ځانته د جغرافيي له مخي او

د اقليم ور ره په جلا جلا او ډول ډول ښتيان او مواد لري د اسي يوه خاوره

نشي پيدا کيدای چه ټول ضروري مواد لکه معدن ، حبوبات او حيوانات

و لري ، نو يوه خاوره و زراعت بله د صنعت او بله د معدن و استخراج ته ده دي

دچا وطن ځاورین او ځنګلي وي او دچا غرني او دغه شان ځيني ملک دښت
او بیابان او بي اوبو وي، نو دځاورو دطبیعي قدرت دمخې دهر مې تولنې او هر ملت
افراد په مشترکه ډول ځیل منځ کښې داستعداد او قابلیت دانکشاف
دپاره یوې خواته متوجه دي او ددې له کبله دملتونو په منځ کښې هم یو رنګ
تقسیم پیدا کیږي او هر ملت په یوه کارکښې تخصص مومي، نو مجبور دي چه
دبل سره مناسبات تأسیس کاندې او څرنګه چه افراد په خپلو منځو نو کښې مناسبات
لري همدا رنګه ملتونه هم ناچاره دي دخوځوږ دپوره کولو دپاره مناسبات او
پیدا ګي او دیو بل نه استفاده وکړي او څرنګه چه فرد په خپلو مناسباتو کې
په جامعه کې ځیل حقوق اصلي او طبیعي او یا فطري حقوق دلاسه نه ورکوي او
همدا رنګه ملتونه سره ددې چه یو دبل سره مناسبات پیدا کوي او ددې مناسباتو
دتنظیم دپاره قواعد او مقررات ضرورت لري، بیا هم لکه افراد ځیل

حقوق د ځان سره ساتي او هیڅکله خپله آزادي او خپلواکي د لاسه نه ورباسي

هر ملت په بین المللي جامعه کې لکه یو فرد په ټولنه کې دی او څرنګه چه فرد په خپله ټولنه

کښې یو آرزښت او یو قیمت لري همداراز هر ملت په بین المللي جامعه کې ځانته

آرزښت لري او د دې آرزښت د قدر او قیمت معنی دا ده چه هر یو د یو او بل حقوق

ته د احترام په سترګه ګوري او ملت که ډیر کوچنی وي او که لوی، په بین المللي ټولنه

کې هیڅ توپیر نه لري نو هغه قواعد چه د بین المللي مناسباتو د تنظیم او

ترتیب له پاره ضروري ګڼل کیږي د ملتولي دنیا د ملتونو آرزوګانې او خوا

هشات دي ولې دا خبره باید چه په یاد ولرو چه: د بین المللي مناسباتو

قواعد او مقررات لکه د ملي جامعو قواعد او مقررات دومره قوي نه دي او

یوه تطبیق کوونکي قوه د ځانه سره نه لري حال دا چه د یوه ملت قواعد او مقررات

خپل شاته تطبیق کوونکي قوه لري او دا قوه هر وخت افراد دې ته اړ کولای شي

چه د قوانینو، قواعدو، او مقرراتو اطاعت وکړي او ورته په درنه سترګه وګوري.

د ملتونو په منځ کښې دا رنګه څو څوه وجود نه لري دا ځکه چه:

آ ـــ هر ملت د خپل استقلال حق د ملتونو د قواوو څخه ما فوق ګڼي او غواړي چه هغه په کلکه او تعصب سره وساتي.

ب ـــ هیڅ یو ملت نشي قبلولی چه یو دولت چه پردی وي په هغو حکومت وکړي یعني دا سې یوه قوه چه د کولای شي چه ټول د دنیا ملتونه ځانته تابع کاندي جوړیدلای نشي او دا قوه چه جوړیدلای نشي نو طبعاً بین المللي حقوق هم په مطلق ډول منځ ته نشي راتلی، نو هر کله چه دا دا سې خبره شوه نو اوس د دې غم خوړل په کار دي چه: مناسبات څرنګه ټاکل کیږي شي؟ او ملتونه څرنګه د یو بل سره مرسته او معاونت وکاندي؟

ددې سوال جواب مونږ دخپل بحث شپږمې برخې ته وړی دی .

شپږم ـــ ملل ناچاره دي چه دمناسـبـاتو دتاسیس دپاره سیاسي وی که اقتصادی په خپلوکی معاهدی او قرارداد ونه لاس لیک کاندي، دامعاهدی او قرار داد ونه دضرورت له مخې او دمخوقواعدوله رویه لاس لیک کیږی چه دمللو دمناسـباتو دتاسیس دپاره ضروری دی او خپله په طبیعي دول په جامعه کی دفرد دحقوقو غوندی منځ ته راغلی دی. معاهدی او تړونونه دضرورت محصول دی او په خپله دهرملت دارادي پوری اتکا لری او یو ملت بل ملت مجبورولی نشی چه دهغه سره تړون لاس لیک کړی او که ئی مجبوره کړی نو داتړون ددی دپاره چه په جبر او اکراه امضاء شوی دی دامضاء په وخت کښی هم باطل دی .

ځکه چه دا په حقوقو کې یو پر نسب دي چه کوم تړونونه چه د جبر او اکراه له روې
په چا باندې تحمیل کیږي او د هغه اراده سلبوي حقوقاً باطل دي .

که څه هم یو څو موده د جبر او قوې د پښتیبانۍ له کبله دوام هم وکړي
خو مشروع شمیرل کیدای نشي او هر هغه شی چه د حقوقو د نظره په اوله مرحله
کښې باطل او بې حکمه وي، هیڅکله مشروع کیدای نشي ـ .

د بلې خوا باید چه د ګورو کوم تړون نو نه مشروع او د لاس لیک ور دي؟
او کوم نه دي ـ ؟ که چیرې یو سړی د یو بل سړي سره قرارداد وکړي په
دې شان سره چه هغه د ځان غلام کړي او تر مرګه پورې به د ده خدمت
کوي او د ده د ارادې تابع او لاس آله به وي . نو د غه رنګه تړون که په آزاده
اراده په رضا او رغبت هم شوی وي نا مشروع ګڼل کیږي ـ ځکه چه غلامي او
اسارت هم دیني او هم مدني قوانینو منع کړي دي ـ فرد

قادر نه دی ددی پر نصیب په خلاف او دربانی نظام په مخالفت کار وکړی-
دارنگه یو ملت هم حق نه لری چه دارنگه تړو نو نه امضا کاندې-او تاریخ
دارنگه یو مثال نه لری چه یو ملت به خپله دغلامي تړون خپله امضا کړی وی
تاریخ ښيئی چه دارنگه تړونو نه که امضاء شوی هم وی موقتی وی او دوام
ئې نه دی کړی- .

ادم.— اوس راغلو خپل اصل مطلب ته اوهغه ددی خبری ثابته
ول دی چه پښتونستان یو آزاد ملت دی او دپښتونستان
دخاوري دوطن ) ښو دل دی ـ ځکه نبی ددی نه چه خپل بحث
شروع کړم دلوستونکو څخه هیله لرم - چه لمړنی بحثونه ښه په یاد
ولری ځکه چه تیر شوی بحثونه بیا له سرنه بیول دوخت ضائع
کول وی . په دی بحث کښی لازم دی چه داڅو مسئلی تحلیل او

ثابتې کړه

( ۱ ) د ملت عناصر او د هې عناصر و موجودیت په پښتونستانی ملت کښې.

( ۲ ) د هغو معاهدو او تړونو نو پو چوالی ښودل کوم چه په خوا د پښتونستان

ملت په قوم په جبر او اکراه سره لاس لیک شوی دی. .

هغه هوښیاران او پوهان چه مخصوصاً په اجتماعی علوم او بیا په تېره

د حقوقو سره د نژدې مینه او علاقه او رابطه لري. وائی چه د دې د دی

پاره چه یو ملت مخ ته راشی باید د هغو لو نه په مخ کښې یو فامیل موجود

د افامیل چه د ډیر نسبت په وسیله د رخ په رخ ډیریږی

نو د هغی نه یو قوم او قبیله جوړیږی. او قومونه او یا قبیلې چه سره

یو ځای شی عشیره تری جوړه شی او د اعشیری چه یو ځای شی نو

ملّت ورته ویلی شی د اد اجتماعیاتو د نقطې نظر کښې د ملت

تشکیل وُ- او مونږ په مخ کښې مباحثو کښې دحقوقو په لحاظ سره دملت تشکیل او ځرنګوالی وښود-

نو او س دلته غوا رم چه د یو ملّت عناصر چه ټول علماء او پوهان په هغې با ندې متفق او متحد دی تحلیل کړم- او د اثر ګنده کړم چه ملت څه شي دی؟ او آیا دپښتونستان په نامه یو ملّت وجود دلری که نه؟ په دی او آخر وکښې لوئی دا نشمند ( ارنست رونان ) په دې لاندې ډول دملّت تعریف کړی دی .

ملّت هغه لو یه تاریخی او جغرافیائی ټولنه ده- چه دیوی څاوری دپاسه چه وطن ئی بولی ژوندکوی او دیو قانون او سلطې خاوندان وی- دا عالم علاوه کوی چه که چیری دملّت دا فرادو ژبه ، نژاد ، او دین سره یو وی- نو دا ملت یوقومی او متقند رملّت باله شي- دوی

عالم په نظر کښې دا پورتنۍ درې عنصره نه ضروري او لازمي ملل کېږي
ولې د هغوی وجود لکه چه موږ کې بیان کړه - ملت د قدرت سطوت
عظمت ، او حشمت نښې دي - نو راځو ! چه اوس دا عنصرونه یو
د گوره او تحلیل ئې کړو -

الف . - ژبه - که څېرې یوه ملت په یوه ژبه باندې خبرې وکړي
دا مسلمه او معلومه ده چه د هغې ملت ټول افراد دیواو
بل په احساساتو باندې پوره وقوف مېندلای شي - او
د ژبې یوالي دافرادو انساني احساسات لکه محبت
شفقت . نوع دوستي . وطن پالنه . او داسې
نورې په ښه شان سره تقویت کوي - او که څېرې
یوه نه وي - هم ملت جوړېدی شي چه دا به تاریخ په

عنصر کښې مطالعه کړو..

پوهان وائي چه ډېر بېلتون د ملّت د وجود د منافي نه دی

او د ملّت د تشکیل مانعت نه پېښوي لکه چه سویس په دري ژبو خبري

کوي.- او یو ملّت تري نه جوړ دی

ب .- نژاد- نژاد یو ډېر په حقیقي دول سره د یو ملّت د جوړېدو

یو مهم او عمومي عنصر بلل کیده.- ولي ! دا نن ورځ په ډېرو

او اعصارو په اوږدو کښې جنګونه شوي یو ملت پر بل باندې

حمله راوړی او یا ملتونو د مناسباتو د بنه والي د پاره سره ګډ

شوي دي.- نو موږ فشو کولای چه په دنیا کښې حقیقتاً یو سپیڅلی

قوم او ملّت چه نورو قومونو او ملتونو سره ګډ شوی نه وي

راپیدا کاندو د دلته باید دویل شي چه په دنیا کښې یواځي

ملت پښتون دی - په سره د دیره وحملو، جنګونو او ټګ راټګ وهیڅ ملت سره ګډ شوی نه دی او خپله وینه یې سپیڅلی باقی ده - او په پیلوکی پنځه نوی ویلای شو چه د پښتون ملت دیوه نژاد نه مرکب او متشکل دی -)

دا چه دیوه ملت د یاره د نژاد یووالی ضروری دی د پرو پاګندله پاره ویل شوی خبره ده او مینو دولو دخپل استعماری سیاست د پرمخ تګ د پاره دا خبره منځ ته راوستی ده - دا خبره که په رښتیا سره دویل شی غلط نه ده - او په دنیا کښی بی د پښتون ملت نه بل داسی ملت چه یو نژاد ته منسوب دی - وجود نه لری .

ج - دین - دین چه یو معنوی احتیاج دی او هیڅ انسان نشی کولای چه بی دینه باقی شی - نو ځکه دین د اجتماعی او فردی ژوند د پاره یوه لویه تکیه ګاه ده .

که چیری یو ملّت یو دین او یو آئین ولری نو بلیه شکه دهغوی دافرادو معنویات یو دبل تکیه گاه وی او دداسی یو ملّت اعضاتل مدام میمی او داجتماعی تسانداحساسات ئی قوی دی اگرچه که چیری یو ملّت په یو دین او آئین نه وی هم داعصارو په اوږدو کښی یو دبل سره په نشکیدو نکو پړو تړل شوی وی.

ه . ـ خاوره ـ (وطن) وطن هغه مقدسه خاوره ده چه افراد په هغه کښی زیږدلی او په هغه کښی ئی خاپوځی کړی وی او دهغه نه ئی تری آختی وی - اوهغه دابادی دپاره ځانونه قربانوی دسر او مال نه تیریږی - ددی دپاره چه یو ملّت منځ ته راشی دخاوری وجود دمینوهوښیارانو په نزد کښی ضروری او لازمی نه دی ځکه ددی پوهانو په نظر کښی دیهود ملّت سره ددی چه آواره اودر

په ورد ی بیا هم یو ملت دی ولی وطن نه لری. ( او س هم دیهو د و وطن

لا پوره جوړ شوی نه دی او امید لرو چه ښغه پا که د- بیت المقدس غاړه

د دی ملت د ظلم او ستم نه خلاصه شی).

ولی که چیری یو ملت وطن و نه لری د ښځو د افرادو په منځ کښی څر نگه پیوند

پا ته کیدای شی. بیله وطنه ژوند بیله دینه؟ چه سمری. یوه تو نه څکه د ژوند

د پاره غوره کړی او د نور و ورو نو سره په ښې باندی په سعادت او صمیمیت

کی د او سیږ ی- بل رنګ ژوند مزه حتی معنی نه لری.

نو د دی پورتنیو خبرو اترو نه پوهیدای شو چه ښځه څلور واره عنصرونه د ملت

د پید اکید و له پاره که څه هم د قوت باعث گرځی ضروری او لازمی

نه بللګیږی- نو ښغه به کوم عناصر وی چه د ملت د منځ ته راتللو له پاره

د ښغوی وجود ضروری او لازمی باید وګڼل شی؟؟ ځکه چه هر موجود مطلقاً

د عناصرو څخه ترکیب کوی - او ملت چه یوه اجتماعی او سیاسی ټولنه

هرو مرو ځانته عناصر لری نو د دی د پاره چه دا عناصر هم وګورو - لمړنی

تعریف باید تحلیل کړو .

الف . __ ملت یو تاریخی او جغرافیائی تشکیل دی - دا عبارت چه

نن د ورځ د ملت د مهمو عناصرو څخه ګڼل کیږی ډیری معنی ګانی لری .

او طبعاً موږ مجبور یو چه دا معنی وڅیړو - دا پتونی عبارت دا معنی لری چه

ملت باید چه یوې خاورې د پاسه استوګنه وکړی - چه دا خاوره

د ملت جغرافیائی تشکیل تکمیلوی .

ثانیاً : ! د یوی ټولنی افراد چه د تاریخ په اوږدو او د زمانی په سیر کښی

په یوه خاوره کښی ژوند کوی مشترکی ډیری ښادی ګانی . ډیر غمونه .

او ډیر خاطرات لری د ظفر او پیروزی د ورځی او د شکست پیوند ونه

چه لمبې یې رنګین او دوهم یې دردلړونکې دي. دملت دافرادو په فکرونو زړونو، او خیالاتو کښې ډیرې اغیزې آچوي داغمونه او ښادي ګانې چه ملي غمونه او ملي جشنونه دي- داسې مشترک، داسې واحد احساسات تولیده وي چه دملت هر یو فرد هرو مرو دهغوی تابع وي- په غم مغموم او په ښادي ښاد وي.

په ملي ماتم کې په مشترک غم کې ټول افراد په شرافت سره غمجن وي ټول په یوه زړه او په یوه آواز زړه زاری ټنګې، تیاری او سختی ورځې یادوي ثالثاً!!! دتیرو شوو نیکونو او اجدادو یادونه یو قوت دي- یو معنوي قدرت دي- ځکه چه دهغې تولنې او سنې ژوند. او سنې ترقی او تعالی او سنې انکشاف او پرمخ تګ دتیرو شوو خلقو دکوشش او زیار حاصل دي- دتیرو مړو ډیر کارونه دي چه دجمعیت په پیوند کښې فائده لري

او د اپیوند په یوه خاوره کښې یوه جغرافیائي محیط کښې جوړیدی شي - پوهان وائي

(په ټولنه کښې په هر ملت کښې د مړو شمیر د ژوندو له شمیر نه ډیر دی) دا ځکه

چه ټولنې نښتې ژوندۍ ښې موسسې ټولې د تیرو شوو افرادو په لاس ایښودل

شوي دي.

ب. — د خاورې موجودیت هغه دی په په مخ کې موولید

ج. — یو قانون او سلطه ولري

هر ملت ددې له پاره چه د یوې ټولنې د افرادو منځ ته

راځي مجبور دی چه ځانته مقررات وقوانین

مخصوص میزان ولري - او میزان بیله دی نه چه ملت ځان د پاره قوانین

او مقررات وضع کاندي بل رنګ جوړیدی نشي د اقوانین او مقررات

چه جوړیږي نو باید چه په آزاده ول د بل ملت او دولت مداخلې

نه پرته پیدا شي ـ ځکه چه د ملت د آزادۍ حق پرته له دې نه چه یو

طبیعي او مسلم حق دی د ملت ټول افراد په مشترک ډول د آزادۍ

ډیره محترمه ګڼي او هغه په هره وسیله چه وي غواړي محافظه یې کاندي.

دا ولي؟ دا ځکه چه فرد په ټولنه کښې شامېږي او ګویا د خپلې انفرادي

آزادۍ څخه تېرېږي او خپله آزادي د ملت د آزادۍ د تأمینولو دلاس

ته او سپارلو د پاره ملت ته ورکوي نو د فراغت او د اترک محض

د دې له پاره دي چه د ملت آزادي په مشترک ډول سره وساتله

شي او ملت د بل ملت د ظلم استبداد او د تیرې نه خلاص شي که چیرې

فرد دا پوهېږي چه هغه د خپلې آزادۍ فدا کولو په صورت سره لښتي

کولای چه د ټولنې او د ملت آزادي تأمینه او ټینګه کړي نو ولې به د

خپلې آزادۍ څخه لاس آخلي اګرچه د فرد ژاوند په ټولنه کښې یو مجبوریت دی

دلی دا مجبوریت دا معنی نه لری چه فرد بیله کومی نتیجی خپله آزادی قربان
کاندي که فرد راضي دی چه خپله آزادی دلاسه ورکړی ددې دپاره به وي
چه پوهیږی چه دملت آزادی په دې صورت تامینیږی ـ نو همدغه رنګه ملت
هم اګرچه د دنیا په لویه ټولنه کښی ژوند لری او دبین المللی آزادی او نظام
دلاسه ته راتللو دپاره دخپلو ځینو آزادیو څخه فداکاری کوی دلی ملت
هیڅکله لکه فرد دخپلو ټولو ازادیو نه منصرف کیدای نشی ددی له امله ده چه
نن په بین المللی میدان کښی یو عمومی قانون چه ټول دولتونه ئی اطاعت
وکاندي جوړیدای نشی کومه آزادی چه ملت په هیڅ قیمت آماده ندی
هغه دبین المللی ټولنی دپاره فدا کاندي نن دحاکمیت یا سلطی په نوم یادیږی.
ملت چه قوانین او مقررات جوړوی نو البته دا نشی کیدای چه
ټول افراد سره یوځای شی او هغه جوړ کاندي دا ځکه چه لمړی دملت افراد

مليونو نه رسيږي او يوځاى غوندي ل ئي امكان نلري او هم دا چه ټول
ملت افراد يو معين ځاى كښي راټول اود ا يو ځاى ته كل يخي ممكنه نه ده
او نه ټول افراد د حقوقو او قوانينو په ترتيب پوه كيداى شي او
دريم دا چه د ټول ملت افراد كه څيري يو ځاى هم شي ممكنه نه ده چه
د دوئ احتياجات تامين كړل شي - بلكه ټول عامه خدمتونه معطليږي
او د ملت كاروته برباديږي نو ځكه د ملت افراد خپل منځ كښي ځيني
افراد انتخابوي او هغو ى ددې كار موظف گرځوي - پارلمان
وجود پيدا اكوي او هر ملت چه حاكميت لري د هغه پارلمان خپل
ملت اراده تمثيلوي او د بل ملت ارادې ته تابعيت نه كوي.
نوراځي !! اوس وگورو دا ټول عناصر د پښتونستان په ملت كښي شته دي كه نه؟
د پښتونستان ملت يوه ژبه، يو نژاد، يو دين او يو آئين لري او ديوې

لوئ او آزادي خاوندان دي .

د تاریخ په لړکي د زماني په اوږد و کښي ئې شا مو دا آیو د بل سره ګډ ژوند کړی او مدام ئې د خپلي آزادي د ساتلو د پاره مجادلې، مجاهدې او خونریزي ګاني کړيدي د چا تابع شوي نه دي د چا غلامي ئې منلې نه ده د بل ملت حاکمیت او سلطې نه هر وخت خلاص و و که داخبره دروغ دي نو په یوه تکي کو لای شو چه دا پورتنی مطلب ثبوت ته و رسو که چیري د پښتونستان ملت د چا سلطه او حاکمیت قبول کړي وي او د خپلو سپیڅلو احساساتو څخه تیر شوي دای نوا وس به د پښتونستان ملت د نورو مللوا وقومونو څخه ګډ او مخلوط وای .

او هر څه مو به ده پر ونړاده نوسره ګډ شوي وای ژبې به يې لږ څه تغير
موندلی وی، وين به يې تحول کړی وی لکه د نورو غوندې.
سره ددې چه تراوسه پورې د پښتونستان يو سياسي مرکز وجود نه لره
ولې موږ ته دا ثابته ولې شو چه دې ملت ځان ته قوانين او مقررات لرل
او اوس بيخي دا قوانين د مختلفو سياسي مرکزو ځنې تدوينيدې شي.
هوښياران چه د تاريخ پاڼې ګوري نو وائي چه د تاريخ په شپېو د ځو کښي
وهر ځای نه ښه او لمړی ديموکراسي په روم او آتن کښي وه ځکه چه
تاريخ موږ ته ښئي چه مخصوصاً په اتن کښي شپږ او پينځه کاله د ميلاد نه
مخکښي پارلمان وجود لاره او د ملت د پاره به يې مفيد قوانين او
مقررات په خو ښه او سلاجوړه ول او ددې پدها نو په نظر کښي اولين
انتخابي مجلسونه د اتن او روم نه نښتي دي.

ولی زه وایم . ـ

د ټول تاریخ په اوږدو کښې د هغه وخت نه چه د پښتون د وطن تاریخ ثبت شوی دی یوازې د پښتون ملت دی چه د ټولو ملکونو نه مخکښې ئې دیموکراسي تطبیق کړې او د نننۍ دیموکراسۍ بیا په تیره په شرق کښې بې مثل کېږي او د هغې نښې لا ترا اوسه په ډېر ژوندي ډول او روښانه صورت په پښتون ملت کښې جریان لري .

لویه جرګه ده هو! لویه جرګه د دیموکراسۍ تهداب او د ملي حکومت منبع ده. او په رښتیا سره که د دې مسئلې ته ځیر شو نو د پښتون د دیموکراسۍ لوړوالی په اتن او نورو باندې ثابتولی شو او ویلای شو چه د پښتون ملت دیموکراسي مخصوصاً نننۍ ورځې مستقیمې دیموکراسۍ یوه ډېره نښه ده.

د اتن مجلسونه او یا پارلمان دا رنګه یو پارلمان و چه د ټولو افرادو نمایندګي

یې نه کوله . . . .

د روم حال هم دا رنګه و غلام او بادار، ښاروال او کلیوال پردي او وطندار په هر شي کښې سره تمیز لاره د امجلسونه د یوې خصوصي طبقې د انتخاب کړه و نمایندګانو ځني جوړیده، ټولو افرادو حق نه لاره چه په هغې کښې اشتراک وکړي او یا هیڅ نوي خپلې متفکورې ښکاره کاندي او هغه مقررات چه په وضع کیدل پر ټولو افرادو ئې تطبیق یو رنګه نه و بلکه د ښاروال کلیوال او بیا په خپله د ښار د معتبرو او غریبو طبقو په هیڅ کښې نسبت ډیر فرق لیدل کیده .

د قانون په مقابل کښې مساوات چه نن د دیموکراسي د لمړني پرنسیپ او اساس تمثل کیدای شي په روم او اتن کښې موجود نه ؤ نو راشئ او سپا
لویه جرګه هم وګورئ د ټولو نه مخکښې په لویه جرګه کښې مطلق مساوات

وجود لري غريب او معتبر نشته د اقوامو په منځ کښې تبعيض وجود

نلري لويه جرگه د ټولو قومونو نماينده گي کوي. او هغه مقررات چه هلته

وضع کيږي د ټولو افرادو د پاره دي نه د جرگي افرادو ته امتياز لري

او نه قومي مشران ځان د مقرراتو د اطاعت نه ايستلي شي کشتر هم

لکه مشر کولي شي خپل افکار او نظريات په ازاد د ول سره په جرگه کښې

اعلام کاندي. د جرگي خلک ټول يو بل ته حرمت او اطاعت لري

ټول خلک کولي شي چه په جرگه کښې اشتراک وکړي او چا ته مخصوص

دعوت نه ليږل کيږي.

انتخاب يو عمومي شکل لري لوي واړه او حتى ښځې هم کولاي شي

چه په معين وخت کښې جرگي ته راشي.

نوراځې چه اوس انصاف وکړو او ويي د دي نه چه ډيري خبري

د کړو ګوړ د چه د پښتون ملت د ژوند او آزاد ژوند حق نه لري!

او آیا د ټولو ملتونو د ډیر د خپل واکۍ مستحق نه ګڼل کیږي؟ آیا حق نلري

چه په خپله دیموکراسي افتخار وکړي؟

تاریخ ئې یوه خاوره ئې یوه، ټبر، نژاد او دین ئې یو دی ځان ته قوانین

او مقررات لري چه په نننۍ نړۍ کښې هیڅ څوک نشي کولای د هغې نه انکار

وکړي که څوک وائي چه دا اولس دا غیور او د اجسور او آزادي دوست

ملت نه شي کولای په خپل آزاد اقتصادي ژوند ته ادامه ورکړي

په غلط روان دی او اشتباه کوي ځکه چه نن ورځ هیڅ یو ملت اقتصادي

آزادي نه لري او لکه چه په مخکښي بحثونو کښې موږ دا خبره ثابته کړه چه

د دنیا ملتونه ټول آزادي او خپلواکي غواړي که په دنیا کښې ظلم، تعدي

ستم او استبداد د هر ملت د خوا د نفرت په سترګه کتل کیږي.

که نن د د نیا ملتونه د جنوبي افریقا په تبعیض باندي خپلي وصیمیت او
انسانیت نه ډکي آرزوګاني ښکاره کوي او د دنیاد ټولو ملکونو سره
همدردي د بغر لوړه احساسات وي نو نه پوهیږم چه ولي به یو دولت
خپلي سترګي پټي کړي او غوږونه کاڼه کاندي ؟ ولي ادعا کوي چه د
پښتونستان ملت په خپله رضا او په خپل رغبت د پاکستان د دولت
تابعیت غواړي داځنګه کیدای شي چه یو ملت او هغه همداسي ملت
چه د نیا ته دازادي درس ورکوي به د ي راضي کیږي چه خپله ازادي
د بل ملت د آزادي نه قربان کړي هغوی بادران او ځانونه غلامان
کاندي ! ! حیوانات هم چه غلو ربولي یا دیږي او د ازادي خاوندان
نه بلل کیږي هیڅ کله راضي نه دي چه یو قفس یوه کوټه او یا په یو بل
محل کښي ځانونه بندي او قید وګوري آیا انسان او بیا پښتون

دومره همت نه لري چه د حیوانانو نه هم عبرت واخلي ؟!

د پاکستان دا ادعا پښتون ملّت ته عار دی.

پاکستان په دې ادعا پښتون ملّت تحقیر، وې د آزادی

درس ئې د پښتون نه اخیستی او اوس غواړي چه د استاد استاذي

وکاندې ولې استاد خپل ټول افکار هغوی ته نه دي ښودلی؟؟

د آزادی راز د روح د یو ملت نه بل ته داسې انتقال کولی نه شي

چه د یوه آزادی د مینځ نه لرې شي او د هغې په ځای د بل آزادي تامینه شي

موږ د پاکستان د ملت په آزادی خوښ یو- ځکه چه پاکستان یو ملت

دی او د ټولو ملو غوندې د وا آزاد ژوند حق لري..

د پاکستان د ملّت آزادی لکه د پښتونستان د ملت د آزادی به

غوندې موږ خوشحالوي.

نو راځي چه د حقوقو په لار روان شو او د ټولو آسماني او زميني قوانينو د
مفهوماتو پيروي وکړو او پښتون ملت ته د آزاد انتخاب حق ور
کړو او هغوی پرېږدو چه خپل رشد پخپله ثابت او خپل سرنوشت پخپله
د ټاکي ځکه چه که چيري يو زوئ د يوې معيني مودې نه وروسته و نه غواړي
چه خپل پلار او مور سره يو ځای واوسيږي نو پلار او مورئ د قوانينو د مخه
نه شي مجبوره ولی که يو فاميل و نه غواړي چه په يو ځا دره کښي ژوند وکړي
هغه آزاد پريښودل کيږي چه هر چيرته ئي چه خوښه وي هلته د اوسيږي نو
يو ملت څرنګه نه شي کولی چه دا حق استعمال کړي او خپله آزاده اراده
وښيئي.

دا يو طبعي حق دی د اسلامي ديموکراسۍ او ذهني ترقۍ د حقوقو د مناسبتيو
سره پوره مطابقت لري. د پاکستان ادعا هيڅ وخت مشروع

کیدای شي چه د آزاد انتخاب حق د پښتونستان ملت ته ورکړي.

او هغوی پریږدي چه خپله آزاده اراده وخپلواکي او یا پاکستان ایا کوم

بل دولت پوري د تړلو د پاره وازمیئي.

د پاکستان د اداوسني شدت او اوسني کار عیناً هم هغه کار دی

چه څو کاله مخکښي تکرار شوي ؤ.

یعني پاکستان په جبر او اکراه غواړي د پښتونستان د ملت رضا

او رغبت حاصل کاندي او څو کاله مخکښي د اکار د ډیورنډ د معاهدي

د لیک په وخت کښي هم شوی.

هو! د ډیورنډ معاهده یوه غیر قانوني، یوه باطله معاهده ده ځکه چه

الف:- د معاهدې د بحران په وخت کښي د توپونو او نطاقي قوا

د تاثیر لاندي په جبر او اکراه لاس لیک کړی شوی ده — د پښتون ملت

اراده په هغې کښې په هیڅ ډول اظهار شوی نه ده جبر او اکراه حقوقاً
یا معنوی ده او یا مادی او هر هغه قرار داد چه په جبر او اکراه سره لاس
لیک کړی شی دا اول نه باطل ده هیڅ حقوقی ارزښ نه پیدا کوی.

ب :- دا معاهده د پښتون ملت لوئ جرگې نه ده منلې . . . او
هغه معاهدې چه دیو ملت د ژوند او آزادی د پوری مربوطې وی
ضروری ده چه ملت منلې وی. د پښتون ملت لوئ مجلس او لویه
اراده چه لویه جرگه ده په دې فیصلې کښې هیڅ کله شامل شوی نه دی
یو طرفه فیصله چه په جبر او زور سره اجرا شوی ده هیڅ حقوقی ارزښ
او معنی پیدا کولی نشی.

ج :- که چیری دا خبره ومنو هم نو چه د معاهدې کوښکی یو طرف
هیڅ نه ده ځی نو معاهده ټپله فسخ شوې گڼل کیږی د معاهدې یو

طرف انگلستان و چه د هند په نامه ئې هغه معاهده امضا کړې وه

او اوس چه نه هغه هندوستان او نه انګلستان وجود لري معاهده

طبعاً د هیڅ نه وتلې ده او دا چه پاکستان وائي هغوی د انگلستان طبیعي

وارثان دي حقوقاً ارزښت نه لري ـ ځکه چه پاکستان په خپله خاوره کښې

د وراثت ادعا کولی شي او په پردي ملک کښې دا کار نه شي کولی .

هغه وخت چه انگلستان هند ته آزادي ورکوله په خپله ئې اعلان وکړه چه

د قبائلو خلک به خپل سرنوشت به جلا معاهده د پاکستان سره روښانه

کړي او د دې اعلامئې د دیورنډ او گندمک معاهدې په خپله فسخه کړې ی

او د یو فسخ شوې شي د وراثت ادعا منطقاً او حقوقاً هیڅ معنی افاده

کولی نه شي .

که پاکستان د یو څو کسو خائنانو په خولې د ټول پښتونستان د رضایت

او عاکوی بیاهم دبین المللی حقوقو دره یه ضرورده چه دپښتونستان ملت ته دخپل آزاد سرنوشت دټاکلو واک ورکاندی.

ظلم او زور هیڅ کله بقانه لری او تاریخ روښانه دی چه دیو ملت غلامول داسی اسانه وی (په دوهمې برخې کښی به ځنی پورتنی مطلبونه دتاریخ او سیاست له مخی تکرار شی)

## دوهمه برخه

اول. — تاریخ هم دحق په اثبات او روښانه کولو کښی دیو تاثیر لری تاریخ دتحولاتو او تبدلاتو بیان او دهغوی آئینه شمیرل کیږی نو په دی معنی هر شی ځان ته تاریخ لری ځکه چه په نړۍ کښی هیڅ شی نشته دی چه تحول او تبدل و نه لری. دژبی تاریخ. دنژاد تاریخ. د دین تاریخ، داداب تاریخ

د آسمان محکي لنده ده داچه هر شي ځان ته تاریخي وجود لري او همدا تاریخ
دی چه موږ ته د راتلونکو ورځو د پاره لیاره ښیي تاریخ دی چه د حقایقو
صافه او بې رنګه آئینه ده .

د ملتونو نشیب او فراز د آزادۍ د شوق او حرص د ترقۍ د
لیارې، نوع پالل دا ټول د تاریخ په سینه کښې پراته دي .
حقوق هم د تاریخ یوه برخه ده که چیرې څوک تیر شوي اجتماعي موسسات
لکه حقوق، ژبه، دین او داسې نور و نه پیژني نو نه شي کولی چه ښتنی د
مؤسسې توضیح کاندي نو هر سړی کولی شي چه د تاریخ له مخې د یو
ملت څرنګه والی ځانته روښانه کاندي؟ تاریخ له مخې د معاهدو
قرار دادونه او مناسبات تواغیزه په ملت کښې وګوري. د آزادۍ مینه
او محبت د ده ته ښکاره شي .

د جنګونو او مجاهدو او د بشر د خونریزو علتونه در معلوم شي .

نو زه هم د تاریخ لمنه نیسم ځکه زه هم تاریخ ته مراجعه کوم او د تاریخ په صفحو کښې

خپل مطلب و تاسې ته د په اند کوم، تاریخ د حقایقو لو ته او د حقایقو

پانګه ده او هیڅ څوک دا نه شي کولی چه د تاریخ خبرې دروغ ګاندې او

یا په هغو باندې خط بطلان راکاږي.

موږ څرنګه پوهیدلی شو چه په تاریخ کښې د روم او د یونان ملت یو لوی

او ستر مدنیت لاره ؟ مصر، کلده ، اشور، هند او ایران څومره

عظمت درلود ؟ یعنی زموږ وطن افغانستان او ذنبي پښتونستان

خاوره څومره یو لوئ مدنیت ګهواره اوزانګو وه ! د اسلام مبارک

او مقدس دین ولې په دنیا کښې فوري خپور شو ؟ د اټول حقایق

د تاریخ په پاڼو کښې روښانه کیږي او تاریخ فلسفه هم موږ ته دیوملت

دوجود، د ترقی . مدنیت تنزل او اضمحلال علتونه معلوموی . . .
نو دغو حقائقو د ثبوت دپاره د تاریخ لمنه نیسوا او کوشش به کړو چه
د تاریخ دمخې دملو د ژوند حق ثابت او دا خبره چه حق د زور محکوم دی
تردید کاندو . . او د بېوچه یو ملت اسارت او مړینې توب
نه شی منلی .
راځئ چه د تاریخ په صفحاتو کښې وګرځو او د تولو نه مخکښې د ارو پا دملکونو
د اسیا دلویو ملتونو او بیا دخپلی خاورې په تاریخ رڼا واچوو . البته
په دې کښې به مونږ هیڅ کله ډیر توضیحات ورنکړو او پرې به نږدو چه
زمونږ محترم لوستونکی دسریه ډرد اخته شی .
ډیر ملتونه د دنیا په هرګوښه او هرې خوا کې د تاریخ له رویه پیدا شوی
او تر لوداکوشش کړیدی چه خپل ژوند ، خپل آزاد ژوند او موجودیت

هرو مروساتي او موږ ډې علت په ځنګښې پالنو کي بيان کړچه ولي يو ملت
د خپل ژوند او موجوديت سره علاقه لري؟

ديرلري به نه ځو او د لنډ تاريخ نه به شروع وکړو. . . او کوشش به
وکړو چه وښيو چه يو ژوندی او ازاد ملت هيڅ کله د منځه نه شي تلای
د لو که يو څو موده حتی يو څو قرنه هم د چا اسير او غلام پاتي شي خو بيا هم
تر څو ئي چه روح ژوندی وي د خپلي مجادلي نه لاس نه اخلي . . . او حق
چه د زور د خمو او تيارو ورڅولاندې پټ شوی وي ضرور ضرور
بيرته سرراپورته کوي.

د بلغار، يونان او د روماني ځني برخي او د بلګان نورو ملتونو ډيره موده
د عثماني امپراطوری د لاس لاندې ژوندون وکړو او داسي خيال
کيده چه دا ملتونه د منځه تللي او نور ئي خپل موجوديت بايللي دی

ولی د ۱۹ قرن په اوږدو او دشلمې پیړۍ په سر کښې دا ملتونه ټول
بیرته لګه دیخوا غوښتې آزاد شول او نن د دنیا په آزادو ملکو کښې هر
یو ځانته موجودیت لري

همدارنګه د پولینډ ملت څو ځله د اروپا د لویو دولو د طرف نه په خپل
منځ کښې تقسیم شو او څو وخته د پولینډ د ملت نوم هم د تاریخ په
پاڼو کښې چا ونه لیده اما هر ځلي او هر وخت ددې د پاره چه دغه
ملت ځانونو د آزادۍ د حاصلولو د پاره خپل کوششونه او قربانۍ ورکول
جاري وساتل نو دا ملت بیرته پخپلو پښو او ودرید او حق یو ځل بیا پر
زور او چل، ول باندې غلبه وموندله .

نن هم کورو هغه ملتونه چه د پردو حاکمیت ئې قبول کړې او په
قرنو قرنو د اسارت او غلامۍ په ځنځیر کښې بند پاتې شوی دي

ازادي غواړي او ډېره ئې آزادي د په خپل طبیعي او فطري حق بڼي وغښتلي دي
لکه د افریقا شمالي ملکونه، د اېشیا د جنوب شرق ولسونه او لکه پخپله هند او
پاکستان.

تاریخ ترا وسه پورې دا مثال چه یو ملت به د منځه تللی وي نه لري...
که یو ملت د منځه تللی او د یو بل ملت سره ضم شوی هم وي په بل نوم ئې
بیا هم خپل موجودیت ښکاره کړی دی.... تاریخ د ټولې دنیا د ملتو
د ترقۍ لوړوالي او ټیټوالي ښئیي... تاریخ د جنګونو د خونریزیو صحنې
بې له څه تصرفه موږ ته وړاندې کوي. ولې هیڅ کله نشي ښودلای چه یو ملت
سره د خپلو عنعنو، عاداتو، فضائلو او احساساتو د بل ملت د لاس لاندې
ژوند ورن تیر کړی وي. په هغو وختونو کښې چه یو ملت او وطن د دوستی
احساسات منځ کښې نه وو هم ملت مدام ملت پاتې شوی دی...

که چیرې یو ملت په خپله خوښه او اراده د یو د بل ملت د غلامۍ کړۍ په غوږ ونو کړې دی هم هغه وخت چه افراد پوهیدلي دي چه ازادي او آزاد ژوند خپله سلسله او خپل ملي دولت یو لوئ نعمت دي نو فوراً ئې اقدامات شروع کړي او هر و مرو ئې خپله آزادي لاس ته راوستې ده. نو تاریخ به دې شان دللو په پیژندلو او د حقایقو په ثبوت کې رول لوبوي او هغه کسان چه منطق او حقوق نه مني او د خپل زعم هغه قول اشتباه او غلط بولي نو د تاریخ نه خو منکر یدی نه شي . . .

تاریخ ته نظر اچول یه تاریخ کښي ژوند کول د بشریت یوه ضروري وظیفه ده . . . او نن ورځ هغه رویه او طریقه چه د یو ملت د انتظام او امنیت د پاره لازمه ده او سیاست نو میزې ای بل رنګه تقاضا لري.

۲ د سیاست تقاضا : منطق، حقوق او تاریخ هم پریږدو او

راځي چه سیاست د گورو چه هغه و موږ ته څه وائي؟ سیاست

د جامعي وترقي او سعادت د تامینولو د پاره یوه مخصوصه روپه او طریقه

(چه منبع ئې حقوق دي) په کار اچوي.

سیاست داتقاضا لري چه د دې د پاره چه یو جمعیت اداره شي

د جمعیت سعادت او رفاه تامین کړی شي نو ضروره ده چه

تطبیقاتو د پاره یو نظام وجود ولري دا نظام هم مقتضي دي چه هر سړي

حق و هغه ته وسپارل شي عدالت او انصاف هغه ته راشي که

څوک په جامعه کښي غواړي چه یو کار وکړي ازاد وي او څوک ئې چا مانع نه شي

البته دا د آزادي هم قانون د حدودو په چوکاټ کښي وجود لري او د دوام

ملت سیاست چه دا تقاضا کوي چه هغه افراد او انسانان

چه یو دین او یو آئین لري تطبیق شي او یو ملت دې تشکیل کاندي نو

موږ باید چه دې منطق او سیاست پوهېږو خاندو که دا سیاست

د غنډ او بې نه دی نو ضرور ده چه باید قول اسلامي مملکتونه او ټوله عیسویان

او موسویان او داسې نور یو یو لوی ملت تشکیل کاندي په دې باب

کښې دې ډېر خبرې کېښې دي ځکه دا پوځنی منطق د پاخه عقل خاوندان منلي نه شي

تاسي وګورئ ! ؟ د چا به دا خیال وه چه شمالي ایرلینډ به د برطانیا د امپرا

توري نه جلا شي ؟ او دوی به وغواړي چه ځانته یو آزاد وطن جوړ کړي

او یو ملي حکومت ولري .

آیرلینډ چه د جغرافي له رویه ، د تاریخ له مخې له پېړیو د برطانیا د جوړې

ځنې یوه برخه ده .

مګر ایرلینډ یا نو چه خپل ځانونه یو جدا ملت او یو جدا نژاد بولي نو ځکه دې

خپله آزادی وغوښته او تاسی ولیدل چه جلا هم شول.

دانګلستان سیاست مدارانو داخبره ومنله او په دی چه ایرلینډ دی جدا نه شی سره ددی چه څوقرنه تینګار شوی دی خو بیائی هم دهغو په مقتضیاتو رفتار وکړ او دشمالی آیرلینډ آزادی ئی ومنله.

سیاست دمنطق او حقوقو په چوکاټ کښی معنی لری او هرکله چه ددی چوکاټ نه ووځی نو یو عبث او واهی سفسطه شی.

که پرون دانګلستان سیاست دایرلینډ آزادی نه تصوبیوله، که پرون انګلستان په هند باندی کلک ولاړ وو نن ئی دعصر ایجاباتو ته وکتل او خپل سیاست ئی تعدیل کړی او دی دواړو ملتونو ته ئی آزادی ورکړه ځکه چه انګلستان دی ته ښه ملتفت وو چه که چیری دا آزادی ورنه کړی او شوی ملتو دآزادی او انډ نه دانه وړی.

خونریزي او د جنګ په پېښېدو وخت به سره د دې هم غلبه د کاندي .

سیاست نن ورځ دا تقاضا لري چه هر ملت د بین المللي جامعې په لویه جرګه کښې

په آزادانه ډول ژوند وکړي هر ملت چه په دنیا کښې په یو نوبانده ژوند حق لري

حتماً د آزاد ژوند حق ورته حاصل دی ملتونه چه خپل ځانته د آزادۍ و مساوات حق غواړي

نو سیاست ئې هم دا تقاضا لري چه هر ملت د آزادۍ حق ته دې احترام په سترګه وګوري

او حرمت دې ورته ورکاندي احرمت بې ننګه نشي کېدای ترڅو چه هر ملت د

( سالف د بېترمنیش ) حق ونه لري او دا حق هم په آزاد ډول او بې مداخلې کولو

د یو بل فرنام په صورت لاس ته راځي .

نو چه هر سړی حق لري ځانته یو ژوند، یو کار انتخاب کړي او د ځان د مشروعه آزادۍ هم ده

نو یو ملت خو په ډیرې ښائي سره دا حق لري .

که چیرې د دوو کسو په منځ کښې اختلاف وي یا په جنګ حل او فصل کیږي یا په حکمت

سیاست ترا وسه جنگ تقاضا نه لري لې د حکمیت تقاضا د عدالت او بشري

حقوقو له مخې وجود لري .

یو آزاد ډیر زیات په یو ملت کښې حقوقي او مشروع د ي ددې کار مخالفت

سیاست نه بلکه حماقت دی او د حماقت نتیجه جنګ او خونریزي ده

سیاست د اتقاضا لري چه هر ملت او هر دولت د خپلو ګاونډیانو سره د صلحې او

سلامتیا په لار کښې ګزاره وکړي د اګزاره د چه ملو آزادتر ند ضمانت کولی شي.

د ډیر ښه مشروع حق غوښتل حقوقا او انصافا روادی او ددی غوښتنې نه منل

سرتمبه ګي ده چه تر اوسه ئې بې د خونریزي بله فائده نه ده کړي .

یو ملت په توپو او ماشینګنو او نظامي ترونو ویردل د سیاست کار نه دی

ځکه چه یو ملت هیڅ کله ددې خبرو نه ویره نه لري او خپل هدف نه هر و مرو او صلیږي

نو هغه کسان چه ځانونه سیاستمداران بولي اشتباه کوي چه غواړي یو ملت

خان سره په زور ضمیمه کاندي سیاست د اقتضا لري چه سیاست مداران ئې

د دې تیرو شویو واقعاتو څخه عبرت د اخلي نه دا چه په تاریخ او تاریخي

واقعاتو ریشخند و کاندي .

یو ملت چه ژبه ئې واحده، دین ئې واحد اقتصادي ئې او جغرافیائي ژوندون ئې

واحد او مشترک وي که په زور وي که په خپله خوښه هر څوک ئې خپله ازادي لاس ته راوړي

سیاست د نظام تاسیسول دي. نظام تاسیسول د صلح او سلام ژوند کول ...

نظام وي هر ملت په خپله رضا او اراده سره ئې په مینځ ته راځي نظام په زور، جبر، اکراه

حیله او خدعه باندې تاسیسیدې نه شي .

٣- تاریخ ښوونه کوي چه د ډېر زوړ زمانه د پښتون ملت نوم او پښتو ژبه د تاریخ په اوږدو کښې موجوده

او دا موجودیت تل مدام په آزاده تول تیر شوي دي .

که څه هم د پښتون ملت نوم د تاریخ په اوږدو کښې لکه د نورو ملتونو نومونه تغیر

او تبدیل لری ولی اصلی مفهوم هر کله موجود دی ژبه او نژاد او مشترک وطن د پښتنو ملت د
موجودیت په تاریخ کښې ثابت دی کله پټان او کله پختون ویل شوی دی ولی دا نوم ئې
محض د ژبانی نسبو ده د پاره ارزښت لری او اصل د ملیت مفهوم تغیر نه دی موندلی
د پښتنو دین کله بت پرستی او کله آتش پرستی و - ولی ژبه او نژاد او کلتور او عادات
لکه چه تاریخ شاهد دی یو رنګ باقی دی . . . اوس چه قبول ملت د اسلام
په مبارک او مقدس دین باندی روښانه دی بیائی هم خپلی عنعنی او عادات
لاس ورته کړی ساتلی دی او یو ملت د تاریخ په لړکی هغه وخت مخ ته کښلی شی چه خپلی اصلی عنعنی عادات او احساسات
تیمور لنګ ترهغه وخته پوری چه د ده یو رنګ منحوس خط منځ ته نه لو د پښتنو وطن آزاد وو . . . نه یونان نه
نه مغولو او نه انګلیسانو لمانده کړی ئې دو دا آزادی ئې خپلواکی روح دی ملت فرد په بڼ کښې
لکه اور شعله لری دیو رنګ خط هم دا آزادی روح نه دی ئې ثلی او نه ئې وژلی شی .
د پښتون نژاد یو لوی جدا ګانه او سپیڅلی نژاد دی دا نژاد لکه د نورو نژادو

غوندي ځانته جداګانه خصوصیات او مشخصات لري. . دا خصوصیات او مشخصات تاریخ ډیر ښه حفظ کړي او ډیر ښه ئې رو ښانه کوي دا خصوصیات

چه لمرنۍ ئې آزادي ده ددې ملت د خټې سره یوځای ځګل شوي دي

جسارت او د ځان نه تیر یدل ویره نه پیژندل په پښتو او پښتنو والي ځان

وژل ددې لوی ملت حقیقي اوصاف دي.

ددې خاورې د تاریخ پاڼې روانه دي دا سې یوه کرښه به لوی چه ددې

لوی ملت په نوم ښایسته شوی نه دی . ده یوه نه کرښې ددې ملت

د مختلفو قبائلو په منځ کښې هیڅ کله جدائی نده راوستې . . . دې کرښې

د تاریخ په اوږدو کښې ددې ملت د پاره څه ارزښت نه دی پیدا کړی.

هیڅ نه ترا وسه په استخفاف او تمسخر کتل شوي دي دا ملت د تاریخ افتخار دی

راوی هند د قارې نګهبان چه جنګ او جدال ئې کسب او کار دی

ډېر انساني او بشري احساسات لري . د ابشري احساسات
يوازې د ملت دي چه د جنګ او جدال احساسا تو سره تاليف
کولی شي .
ځلانده ده
که څوک سترګې هم پټې کړي تاريخ خپل عزا ورديا و دحق رڼا تسام مدام

( ۴ ) نتيجه . —

د پاکستان حکومت څه غواړي ؟ د پښتونستان نوم ورکول . هغوئ
دځان سره ضميمه کول — او مونږ تر او سه پورې د حقوق تاريخ منطق او
په هر هغه شي چه نن ئ عقل سليم منی څو څو ځله ثابته کړه چه يو ملت کوم
حقوق نه لري . ثابته موکړه چه يو ملت په هيڅ صورت
په هيڅ زور او جبر ، حيله او خدعه نه ورکيږي مونږ څه
غواړو !؟

د پښتونستان د ملت آزاد سرنوشت ټاکل، د (سلف ډیټر منیشن) حق دې ملت ته ورکول . . . ——

یو آزاد ریفرنډم . . . . . . او دا چه موږ غواړو هر مرد گڼد ونکی دی — او تاریخ و دې ملت سره خیانت نه شي کولی نو ځکه خو پښتونستان حق دی.

PROPERTY OF ARIC
Established
1989